# الحمدُ لله الذي ردَّ كيدَه إلى الوسوسَةِ». يعنې الله ستر دی الله ستر دی، الله لره ستاینه ده چې د شیطان مکر یې د هغه وسوسې ته وروګرځاوه

له ابن عباس رضي الله عنهما څخه روایت دی چې وایي: جاءَ رجُلُ إلى النبي صلى الله عليه وسلم فقال: يا رسولَ اللهِ، إن أحدنا يجدُ في نفسِهِ -يُعرِّضُ بالشَّيءِ- لأَن يكونَ حُمَمَةً أحَبُّ إليه من أن يتكلَّم بِهِ، فقال: «اللهُ أكبرُ، اللهُ أكبرُ، الحمدُ لله الذي ردَّ كيدَه إلى الوسوسَةِ». يو سړی رسول الله صلى الله عليه وسلم ته راغی او ورته ویې ویل: اې د الله رسوله، زموږ څخه یو تن په خپل ځان کې داسې څهویني - داسې یو څه ورته په خیال کې راځي چې- دا ورته غوره ښکاري چې سکروټې او ایره شي خو هغه څه یې چې په زړه کې تیریږي - په خوله یې ونه وایي، نو هغه وویل: «اللهُ أكبرُ، اللهُ أكبرُ، الحمدُ لله الذي ردَّ كيدَه إلى الوسوسَةِ». یعنې الله ستر دی الله ستر دی، الله لره ستاینه ده چې د شیطان مکر یې د هغه وسوسې ته وروګرځاوه».

[صحيح]

یو سړی رسول الله صلى الله عليه وسلم ته راغی او ورته یې وویل: اې د الله رسوله، زمونږ څخه یو تن په خپل ځان کې داسې څه حس کوي چې په خوله ویل یې ډیره لویه خبره ده، تر دې پورې چې ایره شي دا ورته ډیره غوره ده لدې چې په اړه یې خبرې وکړي. نو رسول الله صلى الله عليه وسلم دوه ځلې الله اکبر وویل او د الله تعالی حمد - یې ادا کړ چې د شیطان مکر یې یوازې د هغه وسوسې ته وروګرځاوه ـ یعنې له وسوسې پرته نور هیڅ نشي کولای .



النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee